# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
| --- | --- |

**ی. و. ستالین**
**ژباړه: فرهاد ویاړ**
**14.06.10**

## د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه

(شپږمه برخه)

### ۳- تاریخي ماتریالیزم

اوس هغه څه چي باید روښانه شي، دا دی چي: د تاریخي ماتریالیزم له مخي، «د ټولني د مادي حیات د شرایطو» مدلول؛ چي بالاخره د ټولني بڼه، ایدی، نظریات، سیاسي سازمانونه او داسي نورو اړوند مسائل ټاکي، څه دی؟

په حقیقت کي دا «د ټولني د مادي حیات شرایط» څه ته وایي او څه ځانګړني لري؟

بی له شکه چي د «ټولني د مادي حیات شرایط» مفهوم تر ټولو لومړی هغه طبیعت رانغاړي چي ټولنه یي احاطه کړی ده، هغه جغرافیایي محیط دی چي د ټولني د حیات له دایمي او اړینو شرایطو څخه ګڼل کیږي او ښکاره ده چي د هغي په پراختیا او تکامل کي اغیزه لري. په ټولنیز تکامل کي د جغرافیایي موقعیت رول څه دی؟ آیا جغرافیایي محیط هغه اصلي ځواک نه دی چي د ټولنیز بشري رژیم ډول او بڼه او له یو رژیم څخه بل رژیم ته اوښتل تعیینوي؟

تاریخي ماتریالیزم دي پوښتني ته منفي ځواب ورکوي.

په دي کي شک نشته چي جغرافیایي محیط د ټولني د تکامل او پراختیا یو دایمي او له ضروري شرطونو څخه شمیرل کیږي او البته چي د ټولني په تکامل او پراختیا کي اغیزه لري - یعني دا چي جغرافیایي محیط د ټولني د تکامل بهیر یا ګړندی کوي او یا یي هم پڅوي. خو د دي محیط اغیزه هومره نه ده چي د ټولني د حیات برخلیک وټاکي؛ ځکه چي د ټولني بدلون، تکامل او پراختیا د جغرافیایي تکامل په پرتله څو چنده ګړندی دی. د دری زره کلونو په ترځ کي، په اروپا کي دری ډوله بیلابیل ټولنیز رژیمونه یعنی لومړنی کمون، برده ګی او فیوډالیزم رامنځته شول او د اروپا په ختیځ کي، د سوسیالیسي شوروی اتحاد په جمهوریتونو کي آن څلور ډوله ټولنیزه رژیمونه بدل شول، په داسي حال کي چي په همدي موده کي په اروپا کي جغرافیایي شرایطو یا هیڅ بدلون ونه موند او یا هومره یي بدلون کم و چي جغرافیه پوهانو آن د هغي له یادوني ډده کړی ده. علت یي هم ښکاره دی: د جغرافیایي محیط د یو جدي بدلون لپاره میلیونونو کلونو ته اړتیا ده حال دا چي د بشري ټولنیز رژیم مهمو تغییراتو لپاره څو پیړی یا هم یو دوه زره کاله بس دي.

نو پایله دا ده چي جغرافیایي محیط نشي کولای د ټولنیز تکامل ټاکونکي وسیله او اصلي علت وګڼل شي، ځکه څه چي د لسګونو زرو کلونو په موده کي تقریباً بی تغییره پاتی شي، نشي کولاې د هغه څه اصلي سبب شي چي د څو سو کلونو په واټن کي اساسي بدلون مومي.

نو بیا په دی کي شک نشو کولی چي د نفوس زیاتوالی او د هغه د تراکم درجه د «مادي حیات د شرایطو» له متشکله موادو څخه دي، ځکه چي انسان د ټولني د مادي حیات د شرایطو له اړینو عنصرو څخه شمیرل کیږي او د انسانانو له نشتوالي پرته د هیڅ ډول ټولنیز مادي ژوند امکان نشته دی. آیا د نفوس زیاتوالی د بشري ټولنیز رژیم د معینولو هماغه اصلي ځواک دی؟

دې مسئلې ته هم تاریخي ماتریالیزم منفي ځواب وایي.

ښکاره ده چي د نفوس زیاتیدل د ټولني په پرمختګ او پراختیا کي اغیزه لري او دغه بهیر ګړندی کوي یا یې هم شاته اچوي، خو د ټولنیز تکامل اصلي لامل ګڼل کیدای نشي او د ټولني د پرمختګونو برخلیک نشي ټاکلی، ځکه چي د نفوس زیاتیدل په یوازې توګه نشي کولاې موږ ته وښیي چي ولې یوازې دا نوی ټولنیز رژیم د یوه ټاکلي ټولنیز رژیم ځای نیسي، ولې د لومړني کمون رژیم ځای د بردګي رژیم او د ملوک الطوایفي رژیم ځای د بورژوازي رژیم نیسي نه یو بل رژیم.

که چیرې نفوس، ټولنیز تکامل او پراختیا تعیینولي نو ښایي د بشري نفوس تراکم یو عالي ټولنیز رژیم رامنځته کړي، خو په واقعیت کي داسي څه نه لیدل کیږي. په چین کي د نفوس تراکم د امریکا د متحدو ایالتونو څلور برابره دی، حال دا چي د ټولنیز تکامل له پلوه د امریکا متحده ایالتونه په لوړ پړاو کي ځای لري، ځکه چي په چین کي لا نیمه ملوک الطوایفي رژیم واکمن دی حال دا چي د امریکا متحده ایالتونه زیاته موده کیږي چي د پانګوالي لوړ پړاو ته رسیدلي دي. په بلژیک کي د نفوس تراکم د امریکا د متحدو ایالتونو په پرتله ۱۹ برابره او د شوروی جمهوریتونو اتحاد په پرتله ۲۶ برابره زیات دی خو د ټولنیز تکامل او پراختیا له پلوه، د امریکا متحده ایالتونه له بلژیک وړاندي او بلژیک د شوروي جمهوریتونو اتحاد څخه د یوه تکاملی تاریخی دورې په اندازه وروسته پاتی دی؛ ځکه لا په بلژیک کي پانګوالي رژیم واکمن دی حال دا چي شوروي اتحاد ډیره موده کیږي چي د پانګوالی کار یې پای ته رسولی او سوسیالیستي رژیم یې واکمن کړی دی.

له پورتنیو دلایلو دا پایله لاسته راځي چي د نفوس زیاتوالی، د ټولني د تکامل او پراختیا مهم ځواک نه دی او کیدای هم نشي او هغه ځواک هم نه دی چي د ټولنیز رژیم ډول او د ټولني بڼه معین کړي.

الف.) نو بالاخره د ټولني د مادي ژوندانه د شرایطو په سیستم کي هغه اصلي ځواک کوم یو دی چي د ټولني بڼه او د ټولنیز رژیم ډول او له یو رژیم څخه بل رژیم ته د ټولني پرمختګ ټاکي؟

تاریخي ماتریالیزم باور لري چي دا ځواک د انسان د ژوندانه لپاره **د معیشت د اړینو وسایلو د لاسته راوړلو** له طریقي څخه عبارت دی، یعني **د مادي نعماتو د تولید طریقه،** لکه: خوراک، پوښاک، بوټان، کور، سونګ، د تولید وسایل او داسي نور شیان چي د ژوندانه او د ټولني د پرمختګ لپاره لازمي دي.

د ژوند لپاره خواړه، پوښاک، بوټان، کور، سونګ مواد او داسي نور شیان باید ولرو. د دې مادي نعماتو د لرلو لپاره ښایي هغه تولید کړو او د هغې د تولید لپاره باید د تولید وسایل موجود وي چي په مرسته یې انسان وکړای شي خواړه، پوښاک، بوټان، کور، سونګ مواد او نور توکي تولید کړي او باید دا وسایل تولید کړو او د هغې د کارولو چالچلند یاد کړو او ورسره آشنا شوو.

**د تولید وسایل** چي په مټ یي مادي توکي تولیدیږي، او همدا ډول انساني افراد چي دا تولیدي وسایل کاروي او **د تولیدي تجربو او د کاري مهارت** د یادولو په پایله کي مادي نعمات تولیدوي، په مجموعي ډول د ټولني **تولیدونکي ځواکونه** جوړوي.

خو تولیدونکي ځواکونه د تولید یوازې یو اړخ، د تولید د طریقي یو اړخ جوړوي او دا اړخ د اشیاو او طبیعي ځواکونو سره د انسان د اړیکي ښکارندوی دی چي انسان د مادي نعماتو لپاره هغه کاروي. د تولید بل اړخ، د تولید د طریقي بل اړخ، د تولید په بهیر کي له یو بل سره د انسانانو مناسبات یعني د انسانانو تولیدي مناسبات جوړوي. انسانان د طبیعت سره مبارزه کوي او له طبیعت څخه د تولیدي نعماتو لپاره استفاده کوي خو دا کار په انفرادي او جلا جلا توګه تر سره کیداې نشي؛ بلکي په ګډه او ډله ایزه او په ټولنیزه توګه تر سره کیږي. د تولید دي مناسباتو ته د هر ډول شرایطو لاندي چي وي ټل **ټولنیز تولید** ویل کیږي. د مادي نعماتو د تولید پر وخت، انسانان په خپل منځ کي یو ډول متقابل داخلي مناسبات، یو ډول تولیدي مناسبات ټینګوي. دا مناسبات امکان لري چي د هغو کسانو تر منځ چي له زبیښاک څخه آزاد دي، د مرستي او کمک په بڼه موجود وي او دا امکان هم شته چي دا مناسبت د فرمان چلونکي او فرمان وړونکي بڼه ولري او بالاخره امکان لري چي دا مناسبات د تولیدي اړیکو د یوي بڼي څخه بلي بڼي ته د اوښتولو په ډول وي؛ خو دا د تولیدي اړیکي هره بڼه چي ولري ټل او په ټولو رژیمونو کي، د تولیدونکو ځواکونو په شان، د تولید ضروري عنصر جوړوي.

مارکس وایي:

« انسانان د تولید پر مهال نه یوازې چي پر طبیعت بلکي پر یو بل هم اغیزه کوي. که هغوی د ګډ فعالیت او د خپل فعالیت د مبادلي لپاره په معین ډول له یو بل سره متحد نشي، نشي کولاې تولید وکړي. خلک د تولید لپاره ځانګړي اړیکي او مناسبات پیدا کوي او د همدې اړیکو او ټولنیزو مناسباتو له لاري ده چي د طبیعت سره د هغوی مناسبات رامنځته کیداې شي او تولید تر سره کیداې شي.» (ک. مارکس او ف. انګلس ۵ ټوک، ۴۲۹ مخ، روسي چاپ).

نو، تولید او د تولید ډول، هم د ټولني تولیدونکی ځواک او هم د انسانانو تولیدي اړیکي رانغاړي او په دې ډول په تولیدي بهیر کي د هغوې د یووالي لامل د هغوی مادي غوښتني دي.

ب.) **د تولید لومړنی ځانګړنه** دا ده چي هیڅکله هم په یوه ټکي کي د اوږده مهال لپاره نه ځنډیږي او تل د ودې او تغییر په حال کي وي. همدا ډول د تولید په ډول کي بدلون په ناچاره د ټولنیز رژیم، د ټولنیزو اندونو، سیاسی نظریاتو، سیاسي موسسو یعني، د ټول سیاسي او ټولنیز نظام د سازمان د بدلون او نویو کیدو لامل کیږي. انسانان د تکامل په بیلابیلو درجو کي، د تولید د مختلفو طریقو څخه کار اخلي یا په ساده وینا هغوی په بیلابیلو ډولونو ژوند کوي. په لومړني کمون کي د تولید یو ډول، د بردګی پر مهال د تولید بل ډول موجود و او په فئوډالیزم کي هم د تولید دریمه طریقه موجوده ده او.... د تولید د همدې بیلابیلو پړاونو په تناسب، د انسانانو ټولنیز رژیم، د هغوی معنوي ژوند، د هغوی نظریات او سیاسي موسسي هم بیلابیلي وي.

د ټولني د تولید ډول چي هر رنګ وي ټولنه په خپله هم د بنسټ له پلوه همغسي وي، د هغي اندونه او تئوریګاني، نظریات او سیاسي موسسي هم هماغه ډول وي.

که یو څه نور یي هم ساده کړو: د خلکو ژوند چي هر ډول وي، د هغوی نظریات هم هماغه ډول دي.

یعني دا چي د ټولني د تکامل تاریخ تر ټولو لومړی عبارت دی: د تولید د ودې له تاریخ څخه. د تولید د ډولونو تاریخ چي په اوږدو مهالونو کي د یو بل ځای نیولی دی، د تولیدونکو ځواکونو او د انسانانو د تولیدي اړیکو د تکامل له تاریخ څخه عبارت دی.

نو، د ټولنیز تکامل تاریخ په ورته وخت کې عبارت دی د مادي غوښتنو د تولیدونکو له تاریخ څخه؛ د زیارکښو ولسونو تاریخ چې په خپله د تولید د بهیر اساسي ځواکونه او د هغه مادي غوښتنو تولیدونکي دي چې د ټولنې د شتوالي او پایښت لپاره اړین دي.

نو، د تاریخ علم، که وغواړي چې یو حقیقي علم وي، نور نشي کولای د ټولنیز تکامل تاریخ د پاچاهانو او سپه سالارانو او «نړی نیونکو» او د هیوادونو د «فاتحانو» د عملیاتو په تاریخ بدل کړي، بلکې تر ټولو لومړی باید د مادي غوښتنو د تولیدونکو تاریخ، د زیارکښو پرګنو او هیوادونو تاریخ ته پام وکړي.

نو له همدې امله، د ټولنې د تاریخ د قوانینو د کشفولو اصلي لامل نباید د افرادو په ماغزو یا عقایدو او د ټولنې په مفاهیمو کې ولټو، بلکې د تولید په هغه طریقه کې باید ولټول شي چې د تاریخ په هره معینه دوره کې د ټولنې لخوا کارول شوی ده، یعنې د ټولنې په اقتصاد کې باید د هغې لټول پیل کړو.

نو ویلی شوو چې د تاریخ د علم لومړنی دنده، د تولید د قوانینو ، د تولیدونکي ځواکونو او د تولیدي اړیکو د تکامل د قوانینو او د ټولنې د اقتصادي تکامل د قوانینو څیړنه او کشفول دي.

نو، له همدې امله د پرولتاریا ګوند د دې لپاره چې په سیاست کې په خطا لاړ نشي باید د خپلې تګلارې په طرحه کولو او تدوینولو او هم په خپلو عملي کړنو کې له هر څه دمخه باید د تولید د تکامل او پراختیا قوانین، د ټولنې د اقتصادي پرمختګونو قوانین په پام کې ولري.